يَآ أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا

سورۃ الاحزاب (آیۃ نمبر (56) پارہ (22)



فضائل درود

فَضَائِلُ الصَّلَاةِ عَلٰى سَيِّدِ السَّادَاتِ ﷺ

مُرتب

مولوي ديوبندي

ناظم : جامعه تعليم القران مدرسه

تعليم القرآن اداره

(2)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

(يَا رَبِّ صَلِّ وَسَلِّمْ دَائِمًا) (عَلٰى حَبِيْبِكَ خَيْرِ الْخَلْقِ كُلِّهِم)

محترمو د فضائل درود کتاب چې ما ترتیب کاوه ما محمد رسول الله ﷺ او څلور یاران حضرت ابي بکر صدیق او عمر بن خطاب او عثمان بن عفان او علی رضي الله عنهم او خپل پلار په خوب ولیدل او د فضائل درود کتاب پوښتنه کوي محترمو د فضائل درود کتاب ډېر ډېر تلاوت کوئ او دغه رنګه دلائل الخیرات شریف هم ډېر ډېر تلاوت کوئ زموږ اجازه ده درته که څوک اجازه نه لري د خپل پیر.

شریف فضائل ډېر دي زموږ په وس کې نسته چې ټوله تاسو درود د محترمو ته وړاندې کړو خو صـــرف نمونه مو در ته وړاندې کړه الله ﷻ دې له موږ څخه د فضـــائل درود کتاب په خپل دربار کې قبول کړي او ثوابونه دې زما مور او پلار او مرشد تـه او ټولو شاګردانو ته او خاص هغه مخلصـــيونو ته ورسېږي که نارینه وي او که زنانه چې په فضائل درود کتاب کې يې د پيسـو کومک کړی وي.

رابطه نمبرونه

00937059000139
0092317744718
0092313803059



فهرست

		مخ
1	بهتر درود درود ابراهیمي دی	11
2	هغه درود چې د رسول الله ﷺ شفاعت سرې ته واجبوي	12
3	دغه درود د اویا زرو (70000) ملائکو د مغفرت سبب دی	13
4	که څوک دغه درود شریف وایي رسول الله ﷺ به ورسره محبت وکړي	14
5	که څوک د خیرات کولو طاقت نه لري دغه درود دې وایي	15
6	دغه درود د جمعې په ورځ (80) اتیا واره ویل د اتیا (80) کالو ګناهونه معافوي	16
7	د قرض د ادا کولو لپاره درود شریف	17
8	هغه درود شریف چې ملائکې یې ثواب نه سي لیکلای	18
9	هغه درود شریف چې د ټولو انبیاوو او ملائکو د شفاعت سبب دی	19

		مخ
10	د خیر او برکت لپاره درود شریف	20
11	هغه درود چې د رسول الله ﷺ شفاعت انسان ته واجبوي	21
12	د محمد ﷺ د زیارت او ملاقات د نصیب کېدلو درود شریف	22
13	د قرض د ادا ینې او د قیامت له حسابه د خلاصون درود شریف	23
14	د قبر له سواله څخه د نجات لپاره درود شریف	24
15	هغه درود چې د ټول امت په اندازه ثواب لري	25
16	یو وار ویل یې د لسو زرو درودو ثواب لري	27
17	هغه درود چې د عملنامې دروندوالی ورباندې راځي	28
18	هغه درود شریف چې د عرش مبارک په اندازه ثواب لري	29
19	د ټولې شپې او ورځې د برابرۍ په اندازه سره درود شریف	30
20	پر پل صراط به د سپورمۍ په شان تېرېږي	31

		مخ
21	د سختۍ او تکلیف د ختمېدلو لپاره درود شریف	32
22	د خیر او برکت درود شریف	33
23	د ایمان د حفاظت لپاره درود شریف	34
24	د رسول الله ﷺ د حق د ادا کېدلو درود شریف	35
25	د دنیا او آخرت د کامیابۍ لپاره درود شریف	36
26	د حوض کوثر لپاره درود شریف	37
27	هغه درود شریف چې تر مرګ مخکې جنت په سرېویني	38
28	د حاجتو د پوره کولو لپاره درود شریف	39
29	هغه درود شریف چې په قبر کې د رسول الله ﷺ ملاقات په کېږي	40
30	درود تنجینا	41
31	هغه درود چې ویونکي ته او د هغه مور او پلار ته د شفاعت مقام ورکوي	43

مخ		
44	هغه درود چې د ټوله مخلوق په اندازه ثواب لري	32
45	د رسول الله ﷺ نوم چې ذکر سي دغه درود شریف وایاست	33
46	د رزق د پراخۍ لپاره درود شریف	34
47	په هر ساعت کې (70000) اویا زره نېکۍ لاس ته راوړل	35
49	د ښه کارو د قبلېدو لپاره دعاء	36
50	هغه دعاء چې (70000) اویا زره ملائکې به تر قیامته پورې بخښنه ورته غواړي	37
51	د فقر او مرض څخه د خلاصون دعاء	38
52	د الله ﷻ د راضي کېدلو دعاء	39
53	لږ عمل او ډېر ثواب او ډېرې نېکۍ	40
55	اویا زره ملایکې به ور لره مغفرت غواړي	41
57	سهار او ماښام دا دعاء ویل انسان جنت ته بیایي	42

		مخ
43	په دغه اذکارو سره دعاء قبلېږي	58
44	سهار او ماښام دا دعاء ويل انسان د جهنم د اور څخه خلاصوي	59
45	که د چا قرآن شریف نه وي زده دغه اذکار دې وايي د قرآن عوض دی	60
46	د مشکلاتو د حل لپاره دعاء	61
47	د ټولو بندګانو په اندازه حمد	62
48	د کاروبار د سمېدلو دعاء	63
49	د ورځې (1000) زر نيکۍ لاس ته راوړئ	64
50	د عبادت د خوند لپاره نبوي ﷺ علاج	65
51	هغه ذکر چې د مجلس کفاره ده	66
52	هغه حمد چې ملائکې يې ثواب نه سي ليکلای	67
53	د مور او پلار د زيارت لپاره دعاء	68

مخ		
70	په دغه دعاء د جهنم څخه ځانونه آزاد کړئ	54
71	د قبر د رڼا او د پل صراط د رڼا او جنت ته د ور تللو لپاره ذکر	55
72	د هر مؤمن نارینه او زنانه په اندازه نېکي لاس ته راوړي	56
73	زر نېکۍ لاس ته راوړئ او په جنت کې کور جوړ کړئ	57
74	هغه ذکر چې د حج او عمرې ثواب لري او که مړ سو د شهیدانو په قطار کې به وي	58
76	د سحر او نظر څخه د حفاظت دعاء	59
77	د شپې د بیرې لپاره دعاء	60

(10)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

بېشـــکه چې الله جل جلاله او فرشتې د هغه درود (معنی) رحمت لېږي پر نبي علیه
السـلام باندې ای هغو کسـانو چې ایمان مو راوړی دی درود ولېږئ په هغه باندې او
سلام وایاست په سلام ویلو سره.

(آیة نمبر (56) سورة الاحزاب) پاره (22)

إِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ يٰٓاَيُّهَا
الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا

بهتره درود درود ابراهیمي دي

په درودو کې غوره درود ابراهیمي درود دی که په لمانځه کې وي که بې لمونځه وي.

ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ صفحه نمبر (18) درود رقم (1)

(1)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ

عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ

عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ

هغه درود چې د رسول الله ﷺ شفاعت سړي ته واجبوي

رسول الله ﷺ فرمايي که څوک دغه درود شريف وايي زما شفاعت به ورله واجب سي په ورځ کې د قيامت.

ذريعة الوصول الى جناب رسول ﷺ (صفحه نمبر (41) درود رقم (27)

(2)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ



دغه درود د (70000) اویا زرو ملائکو د مغفرت سبب دی

د حدیث مفهوم دی د عبدالله بن عباس څخه روایت دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل
که څوک دغه درود شریف ووایي نو اویا زره (70000) ملائکې به (1000) زر ورځې
د مغفرت طلب ورلره کوي له الله جل جلاله څخه.

(ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ (صفحه نمبر (44) درود رقم (28) المعجم الکبیر صفحه
(206) ج (11) رقم حدیث (11509) المعجم الاوسط صفحه (80) ج (1) رقم حدیث (235)

(3)

جَزَى اللهُ تَعَالٰى عَنَّا مُحَمَّدًا
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاهُوَ اَهْلُهُ

که څوک دغه درود وايي رسول الله ﷺ به ور سره محبت وکړي

ابن سَبُع په شفاء کتاب کې ابو سعيد په شَرَف المصطفى کتاب کې حديث راوړی دی چې يو نفر د رسول الله ﷺ مجلس ته راغلی د رسول الله ﷺ څنگ ته ابوبکر صديق رضي الله عنه ناست و. رسول الله ﷺ د ابوبکر او خپل ځان تر مينځ ځای ورکړ صحابه کرام حيران سول چې دا څه پېښه سوه چې رسول الله ﷺ دغه نفر ته دومره ناز ورکړ چې صديق اکبر رضي الله عنه يې ايسته کړ او دغه صحابي يې کښېناوه رسول الله ﷺ د صحابه کرامو په طبيعت پوه سو نو يې ورته وويل چې دغه نفر پر ما همدغه درود وايي چې د هغه په سبب مې خپل څنگ ته کښېناوه.

(ذريعة الوصول الى جناب رسول ﷺ) (صفحه (56) درود رقم (38))

(4) اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

که څوک د خیرات کولو طاقت نه لري دغه درود دې وایي

ابن حبان په خپل صحیح کې ابویَعلی موصلي په خپل مسند کې او امام بهیقي په کتاب الادب کې له ابوسعید خدري څخه روایت نقلوي چې رسول الله ﷺ فرمایي که څوک د خیرات توان او طاقت نه لري او د زکات ورکولو وس نه لري مسکین وي دغه درود شریف دې وایي چې همدغه درود ور له د خیرات او د زکات ځای نیسي.

(ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ) (صفحه (59) درود رقم (40))

(5)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُوْلِكَ وَصَلِّ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ

دغه درود د جمعې په ورځ (80) اتیاواره ویل یې د اتیا (80) کالو ګناهونه معافوي

انس رضي الله عنه وایي چې محمد رسول الله ﷺ وفرمایل که څوک پر ما باندې د جمعې په ورځ دغه درود شریف (80) اتیا واره ووایي الله جل جلاله به د (80) اتیا کالو ګناهونه ورمعاف کړي.

(ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ) (صفحه (64) درود رقم (48) القربة الی رب العلمین صفحه (111) رقم (109) باب (18) الترغیب في فضائل الاعمال صفحه (94) رقم (22))

(6)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَنَبِيِّكَ وَرَسُوْلِكَ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ تَسْلِيْمًا

د قرض د ادا کولو لپاره درود شریف

دغه درود شریف که هره ورځ 100 سل ځله وویل سي الله جل جلاله به د دغه انسان قرضونه او پوروونه ور ادا کړي.

(ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ) درود رقم (136) صفحه (187)

(7)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ اَبَدًا اَفْضَلَ صَلَوَاتِكَ عَلٰى سَيِّدِنَا
مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَنَبِيِّكَ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ وَاٰلِهٖ وَسَلِّمْ
تَسْلِيْمًا وَزِدْهُ تَشْرِيْفًا وَاَنْزِلْهُ الْمَنْزِلَ الْمُقَرَّبَ
عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ



هغه درود شریف چې ملائکې یې ثواب نه سي لیکلای

که څوک دغه درود شریف هره ورځ د ما پښین او ماخیګر له لمانځه وروسته (3) درې واره او د جمعې په ورځ له هر لمانځه وروسته یې (7) اووه واره په پابندۍ سره ووایي نو الله ﷻ به ورلره دومره ثواب ورکړي چې ملائکې یې نه سي لیکلای صرف په عملنامه کې به د الله ﷻ په قدرت اندازه ورته معلومه سي.

(ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ صفحه (185) درود رقم (133))

(8)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَنَبِيِّكَ وَرَسُوْلِكَ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَزْوَاجِهٖ وَذُرِّيَّاتِهٖ عَدَدَ خَلْقِكَ وَرِضَا نَفْسِكَ وَزِنَةَ عَرْشِكَ وَمِدَادِ كَلِمَاتِكَ

هغه درود شریف چې د ټولو انبیاوو او ملائکو د شفاعت سبب دی

تر هر لمانځه وروسته دغه درود (3) درې واره ویل د انسان چې کوم کارونه له ملائکو سره وي هغه به الله ﷻ پر اسانه کړي لکه د عملنامې لیکل او د روح اخیستل او د قبر سوال او جواب او که د قیامت په ورځ په نیک عمل نه سو خلاص تول انبیاء او ملائکې به ورلره شفاعت وکړي.

(ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ) درود رقم (132) صفحه (184)

(9)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ وَعَلٰى كُلِّ نَبِيٍّ وَّمَلَكٍ وَّوَلِيٍّ عَدَدَ الشَّفْعِ وَالْوَتْرِ وَعَدَدَ كَلِمَاتِ رَبِّنَا التَّامَّاتِ الْمُبَارَكَاتِ

د خیر او برکت لپاره درود شریف

دغه درود شـــــریف کوچنی دی خو ثواب یې ډېر دی که څوک هره ورځ (500) پنځه سوه واره دغه درود ووایي که یې په یوه وار وایي او که یې له هر لمانځه وروســـته (100) ســـل واره وایي الله ﷻ به یې د دنیا او آخرت له احتیاجه وساتي.

(ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ) درود رقم (138) (صفحه (188)

(10)

صَلَّى اللهُ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّ اٰلِهٖ وَسَلَّمَ

هغه درود چې د رسول الله ﷺ شفاعت انسان ته واجبوي

که څوک دغه درود شریف (7) اووه جمعې او هره جمعه یې (7) اووه واره ووایي رسول الله ﷺ فرمایي چې د دغه کس شفاعت پر ما باندې واجب دی.

(11) (القول البدیع فی الصلوۃ علی الحبیب الشفیع) ص (28) حدیث نمبر (28)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ صَلٰوةً تَكُوْنُ لَكَ رِضَآءً
وَّلِحَقِّهٖ اَدَآءً وَّاَعْطِهِ الْوَسِيْلَةَ وَالْمَقَامَ الَّذِىْ وَعَدْتَّهٗ وَاجْزِهٖ عَنَّا
مَاهُوَ اَهْلُهٗ وَاجْزِهٖ عَنَّا مِنْ اَفْضَلِ مَا جَزَيْتَ نَبِيًّا عَنْ اُمَّتِهٖ وَصَلِّ
عَلٰى جَمِيْعِ اِخْوَانِهٖ مِنَ النَّبِيّٖنَ وَالصّٰلِحِيْنَ يَا اَرْحَمَ الرّٰحِمِيْنَ

د محمد ﷺ د زيارت او ملاقات د نصيب کېدلو درود شريف

دغه درود که په پايبندۍ سره ووايي د محمد ﷺ زيارت او ملاقات به الله ﷻ ور نصيب کړي.

(12)

(ذريعة الوصول الى جناب رسول ﷺ) درود رقم (146) (صفحه) (198)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى رُوْحِ مُحَمَّدٍ فِى الْاَرْوَاحِ وَصَلِّ عَلٰى جَسَدِهٖ فِى الْاَجْسَادِ وَصَلِّ عَلٰى قَبْرِهٖ فِى الْقُبُوْرِ

د قرض د ادا ینې او د قیامت له حسابه د خلاصون درود شریف

که څوک د ماپښین له لمانځه وروسته په پابندۍ سره (100) سل واره دغه درود شریف ووایي الله جل جلاله به ورله (3) درې انعامونه ورکړي (1) اول الله جل جلاله به یې هروخت له قرضه وساتي (2) دوهم که قرضداره وي الله جل جلاله به یې د پټو خزانو څخه د قرض ادا ینه وکړي (3) دریم د قیامت په ورځ به د هیڅ نعمت حساب ورسره و نه سي.

(ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ) درود نمبر (147) ص (199)

(13)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَبَارِكْ وَسَلِّمْ

د قبر له سواله څخه د نجات لپاره درود شریف

که څوک له هر لمانځه وروسته دغه درود شریف (3) واره ووایي الله ﷻ به ورلره په قبر کې د نکیر او منکر سوال او جواب پر اسانه کړي.

(ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ) درود رقم (152) صفحه (202)

(14)

رَبِّ صَلِّ عَلٰى نَبِيِّ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ اَجَلَّهَا وَاقْضِ
لِيْ بِجَاهِهٖ حَوَائِجِيْ كُلَّهَا وَصَلِّ عَلَيْهِ كَمَا اَنْتَ
اَهْلُهَا وَسَلِّمْ وَشَرِّفْ وَكَرِّمْ دَائِمًا

هغه درود شریف چې د ټول امت په اندازه ثواب لري

د محمد رسول الله ﷺ مخ ته یو صحابي تېر سو رسول ﷺ وفرمایل چې د دغه
صاحب دومره اعمال هره ورځ د اسمان طرف ته پورته کېږي چې د هیڅ
امتي دومره ثواب نه پورته کېږي اصحابو عرض وکړ چې یا رسول الله ﷺ دا
په څه سبب رسول الله ﷺ وفرمایل چې جبرائیل علیه السلام راسي زه پوښتنه ور څخه
کوم کله چې جبرائیل علیه السلام راغلی رسول الله ﷺ پوښتنه ور څخه وکړه هغه ور ته
وویل دغه صحابي چې فضیلت او بهتري پیدا کړې ده دی دغه درود شریف
دورځې (10) لس واره وایي.

(ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ) درود رقم (158) صفحه (207)
تفسیر در المنثور (ج12) صفحه (120) سورة الاحزاب (اية56)

(15)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ كَمَا اَمَرْتَنَا اَنْ
نُّصَلِّيَ عَلَيْهِ وَصَلِّ عَلٰى مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ كَمَا يَنْبَغِيْ
اَنْ يُّصَلّٰى عَلَيْهِ وَصَلِّ عَلٰى مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ بِعَدَدِ مَنْ
صَلّٰى عَلَيْهِ وَصَلِّ عَلٰى مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ بِعَدَدِ مَنْ لَّمْ
يُصَلِّ عَلَيْهِ وَصَلِّ عَلٰى مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ كَمَا تُحِبُّ
وَتَرْضٰى اَنْ يُّصَلّٰى عَلَيْهِ

يو وار ويل يې د لسو زرو درودو ثواب لري

هر څوک چې دغه درود شريف ووايي الله ﷻ به ور لره د (10000) لسو زرو درودو ثواب ور کړي.

سورة الاحزاب پاره (22) اية (56) (روح البيان) ج (7) ص (234)
نور الانوار في ذكر الصلاة على النبي المختار ﷺ ص (145) انل الخيرات في الصلاة والسلام على سيد السادات ص (125) ذريعة الوصول الى جناب الرسول ﷺ درود رقم (120) ص (165)

(16)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ مَّا اخْتَلَفَ الْمَلَوَانِ وَ تَعَاقَبَ الْعَصْرَانِ وَ كَرَّ الْجَدِيْدَانِ وَاسْتَصْحَبَ الْفَرْقَدَانِ وَبَلِّغْ رُوْحَهٗ وَاَرْوَاحَ اَهْلِ بَيْتِهٖ مِنَّا التَّحِيَّةَ وَّسَلَامًا وَّبَارِكْ وَسَلِّمْ عَلَيْهِ كَثِيْرًا كَثِيْرًا

هغه درود چې د عملنامې دروندوالي ور باندې راځي

رسول الله ﷺ فرمايي هر څوک چې دغه درود وايي
په ورځ د قيامت به يې عملنامه د نېکواعمالو درنه سي. (17)

سنن ابي داؤد (صفحه 227) ج (2) حديث رقم (982)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ وَاَزْوَاجِهٖ
اُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَذُرِّيَّتِهٖ وَاَهْلِ بَيْتِهٖ
كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ

هغه درود شریف چې د عرش مبارک په اندازه ثواب لري

دغه درود که څوک ووايي د اسمان او مځکې او عرش عظیم په اندازه ثوابونه به الله جَلَّ جَلَالُهُ ورکړي.

(ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ) صفحه (224) رقم درود (173)

(18)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ مِّلْءَ السَّمٰوَاتِ وَمِلْءَ الْاَرْضِ وَمِلْءَ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ



د ټولې شپې او ورځې د برابرۍ په اندازه سره درود شریف

شیخ الاسلام ابوالعباس وايي که څوک دغه درود شریف په شپه او ورځ کې (3) درې ځله ووايي دومره ثواب لري لکه ټو له شپه او ورځ چې درود ووايي.

(ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ) صفحه (237) رقم (184) مجرب درود (60)

(19)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ فِىْ اَوَّلِ كَلَامِنَا اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ فِىْ اَوْسَطِ كَلَامِنَا اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ فِىْ آخِرِ كَلَامِنَا

پر پل صراط به د سپوږمۍ په شان تېر یږي

رسول الله ﷺ فرمایي چې څوک دغه درود شریف وایي پر پل صراط به د سپوږمۍ په شان تېر سي مخ به یې د سپوږمۍ په شان روښانه وي.

(ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ) درود رقم (34) صفحه (51)

(20)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ حَتّٰى لَا يَبْقٰى مِنْ صَلَاتِكَ شَيْءٌ
وَبَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ حَتّٰى لَا يَبْقٰى مِنْ بَرَكَاتِكَ شَيْءٌ وَسَلِّمْ
عَلٰى مُحَمَّدٍ حَتّٰى لَا يَبْقٰى مِنْ سَلَامِكَ شَيْءٌ

د سختئ او تکلیف د ختمېدلو لپاره درود شریف

که څوک یو مشـــکل لري نو اودس دې وکړي او دغه درود شریف دې سره د بســـم الله شریفې (1000) زر واره ووایي او (1000) زر واره دې کلمه طیبه سره د بسم الله شریفې ووایي او دعاء دې وکړي ان شاء الله هغه مشکل به یې ختم سي.

(ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ) د ورد رقم (130) صفحه (183)

(21)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ كَمَا هُوَ اَهْلُهٗ وَمُسْتَحِقُّهٗ

د خیر او برکت درود شریف

که څوک دغه درود هر سهار تر لمانځه وروسته (100) سل واره ووایي ټوله ورځ به یې په خیر او برکت سره وي.

(ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ) مخ (182) رقم درود (129)

(21)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كُلَّمَا ذَكَرَهُ الذَّاكِرُوْنَ وَكُلَّمَا سَهٰى عَنْهُ الْغَافِلُوْنَ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ وَّبَارِكْ وَسَلِّمْ

دایمان دحفاظت لپاره درود شریف

ځوک چې دغه درود (50) پنځوس واره دورځې او (50) پنځوس واره دشپې وایي د دې درود په برکت به یې الله ﷻ ایمان ورثابت کړي او له زواله د ایمانه به یې وساتي.

(22) (ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ مخ (186) درود رقم (134)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ صَلَاةً دَائِمَةً بِدَوَامِكَ

د رسول الله ﷺ د حق د ادا کېدلو درود شریف

په ازهار کتاب کې داسې راغلي دي چې څوک دغه درود شریف هره ورځ درې (3) واره ووایي د رسول الله ﷺ د رسالت او نبوت شکریې ادا کړ رسول الله ﷺ به یې د قیامت په ورځ شفاعت وکړي او الله ﷻ به یې درجې ورلوړې کړي په جنت کې.

(23) (ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ) درود رقم (168) صفحه (218)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَسَلِّمْ وَاجْزِهٖ عَنَّا خَيْرَ الْجَزَآءِ

د دنیا او آخرت د کامیابۍ لپاره درود شریف

هر څوک چې د خپلو اذکارو او وظائفو په پای کې دغه درود شریف وایي د دنیا او آخرت برکت به الله ﷻ ور نصیب کړي.

(فضائل درود) صفحه (192)

(24)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّ اٰلِهٖ
وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ بِعَدَدِ مَا فِيْ جَمِيْعِ الْقُرْاٰنِ
حَرْفًا حَرْفًا ، وَّبِعَدَدِ كُلِّ حَرْفٍ اَلْفًا اَلْفًا

د حوض کوثر لپاره درود شریف

څوک چې دغه درود ډېر وايي د رسول الله ﷺ د حوض کوثر
څخه به په غټه پیمانه چیښل وکړي.

(25) (ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ) درود رقم (۱۷۱) مخ (۲۲۲) مجرب درود مخ

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَاَوْلَادِهٖ
وَاَزْوَاجِهٖ وَذُرِّيَّاتِهٖ وَاَهْلِ بَيْتِهٖ وَاَصْهَارِهٖ وَاَنْصَارِهٖ
وَاَشْيَاعِهٖ وَمُحِبِّيْهِ وَاُمَّتِهٖ وَعَلَيْنَا اَجْمَعِيْنَ

هغه درود شریف چې تر مرګ مخکې جنت په سږي ويني

د جمعې په ورځ دغه درود شریف (1000) زر ځله ویل په پابندۍ سره
الله جل جلاله به تر مرګ مخکې جنت ورباندې ووینې د زکندن پر حالت.

ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ درود رقم (54) صفحه(69)

(26)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ آلِهٖ اَلْفَ اَلْفَ مَرَّةٍ

د حاجتو د پوره کولو لپاره درود شريف

که چا ته دنيايي مشکل مخ ته راسي دغه درود شريف دې ډېر وايي الله جل جلاله
به يې مشکل هوار کړي.

(ذريعة الوصول الى جناب رسول ﷺ مخ 138 درود رقم 98 سفينة القادرية مخ 117 مجرب

(27)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الطَّاهِرِ الزَّكِيِّ
صَلَاةً تُحَلُّ بِهِ الْعُقَدُ وَتُفَكُّ بِهَا الْكُرَبُ

هغه درود شریف چې په قبر کې د رسول الله ﷺ ملاقات په کیږي

عمر بن سعید تابعي دی له هغه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي که څوک دغه درود هره ورځ (33) درو دېرش واره ووایي الله جل جلاله به د ده او زما د قبر تر مابین دروازه خلاصه کړي تر قیامته به ما ته ګوري.

ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ درود رقم 52 مخ 68 درود رقم 137 مخ 188 سفینة القادریة مخ 117

(28)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ صَلٰوةً تَكُوْنُ لَكَ رِضَآءً وَّلِحَقِّهٖ اَدَآءً

درود تنجینا

شیخ صالح بن موسی فرمایي په دریاب کې مو سفر کاوه هغه دریاب چې تریو خوندلري هواباد ودرېدی ځکه کښتی په باد چلېدله موږ پوه سو چې کښتی غرقېږي اُمید نسته چې نور سفر وکړو شیخ مبارک وایي ما ته خوب راغی بیده سوم په خوب کې رسول الله ﷺ راغلی راته وې ویل چې دغه درود شریف 1000 زرواره ووایاست الله ﷻ به خلاصوالی درکړي شیخ مبارک فرمایي چې کله د خوبه را پورته سوم د کښتۍ ملګروته مې وویل چې ما داسې خوب لیدلی دی او باید موږ دغه درود شریف 1000 زرواره پوره کړو تر 300 درې سوه پورې چې موږ درود شریف ورساوه الله ﷻ موږ ته خلاصوالی راکړ له غرقېدو څخه.

القول البدیع فی الصلاة علی الحبیب الشفیع : 435 ، ذریعة الوصول الی جناب رسول ﷺ درود رقم 64 مخ 85

(29)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ صَلَاةً تُنْجِيْنَا بِهَا مِنْ جَمِيْعِ
الْاَهْوَالِ وَالْاٰفَاتِ وَتَقْضِىْ لَنَا بِهَا جَمِيْعَ الْحَاجَاتِ
وَتُطَهِّرُنَا بِهَا مِنْ جَمِيْعِ السَّيِّاٰتِ وَتَرْفَعُنَا بِهَا عِنْدَكَ
الدَّرَجَاتِ وَتُبَلِّغُنَا بِهَا اَقْصَى الْغَايَاتِ مِنْ جَمِيْعِ الْخَيْرَاتِ
فِى الْحَيٰوةِ وَبَعْدَ الْمَمَاتِ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ

هغه درود چې ویونکي ته او د هغه مور او پلار ته د شفاعت مقام ور کوي

دغه درود که څوک ووايـــي الله جل جلاله به هغه او د هغه
مور پلار او قريبانو ته د شفاعت مقام ور کړي.

ذريعة الوصول الى جناب رسول ﷺ درود رقم (169) مخ (219)

(30)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّتَقَبَّلْ شَفَاعَتَهُ
الْكُبْرٰى وَارْفَعْ دَرَجَتَهُ الْعُلْيَا وَاٰتِهٖ سُؤْلَهٗ فِي
الْاٰخِرَةِ وَالْاُوْلٰى كَمَا اٰتَيْتَ اِبْرَاهِيْمَ وَمُوْسٰى

هغه درود چې د ټوله مخلوق په اندازه ثواب لري

علی رضي الله عنه فرمايي که څوک دغه درود شريف هره ورځ (3) درې واره او د جمعې په ورځ (100) واره ووايي دغه انسان لکه د ټول مخلوق په اندازه درود ووايه او په ورځ د قيامت به د محمد رسول الله ﷺ په ټولی کې راپورته سي او رسول الله ﷺ به يې تر لاس ونيسي جنت ته به يې ننه باسي.

مختصر تاريخ دمشق د ابن عساکر ج 2 مخ 410 حديث رقم 307 ذريعة الوصول الی جناب رسول ﷺ درود رقم (166) مخ (217)

(31) صَلَوَاتُ اللهِ وَ مَلَائِكَتِهٖ وَاَنْبِيَائِهٖ وَرُسُلِهٖ وَجَمِيْعِ خَلْقِهٖ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ آلِهٖ اَجْمَعِيْنَ وَعَلَيْهِ وَعَلَيْهِمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ

د رسول الله ﷺ نوم چې ذکر سي دغه درود شريف وایاست

مخکيني او اوسني علماء پر دې اتفاق دي چې د رسول الله ﷺ نوم ذکر سي دغه درود شريف وایاست.

ذريعة الوصول الى جناب رسول ﷺ مخ 56

(32)

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ

يا دغه درود شريف.

عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ

درزق د پراخۍ لپاره درود شریف

که څوک غواړي چې رزق یې پراخ سي دغه درود شریف دې ډېر ډېر وایي.

مجرب او مبارک درود شریف مخ55

33

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُوْلِكَ وَصَلِّ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ

په هر ساعت کې (70000) اویا زره نېکۍ لاس ته راوړل

که څوک دا دعاء تر هر لمانځه وروسته ووايي الله جل جلاله به ورله په شپه او ورځ کې (1680000) شپاړس لکه او اتیا زره نېکۍ ورکړي.

کنزالعمال (ج 2) صفحه (131) رقم (3468) (تفسیر صاوی (ج 1) صفحه (215)
سورة البقرة آیة نمبر (255) جامع الاحادیث صفحه (187) ج (2) حدیث رقم (7947)

34

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اُقَدِّمُ اِلَیْكَ بَیْنَ یَدَیْ كُلِّ نَفَسٍ وَّلَمْحَةٍ وَّلَحْظَةٍ وَّطَرْفَةٍ یَّطْرُفُ بِهَا اَهْلُ السَّمٰوٰتِ وَاَهْلُ الْاَرْضِ وَكُلِّ شَیْءٍ هُوَ فِیْ عِلْمِكَ كَائِنٌ اَوْ قَدْ كَانَ وَاُقَدِّمُ



اِلَيْكَ بَيْنَ يَدَیْ ذٰلِكَ كُلِّهٖ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْحَیُّ
الْقَيُّوْمُ ۚ لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ
وَمَا فِی الْاَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِیْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗٓ اِلَّا بِاِذْنِهٖ
يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيْطُوْنَ بِشَیْءٍ
مِّنْ عِلْمِهٖٓ اِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ۚ
وَلَا يَئُوْدُهٗ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِیُّ الْعَظِيْمُ

د ښه کار د قبلېدو لپاره دعاء

که څوک د هر نېک او ښه کار په سر او پای کې دغه درود شریف (10) لس واره
ووایي هغه عمل به يې الله جل جلاله په خپل دربار کې قبول کړي.

(35) (ذريعة الوصول الى جناب رسول ﷺ) د ورد رقم (131) صفحه (183)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ
بِعَدَدِ مَعْلُوْمَاتِكَ وَسَلِّمْ تَسْلِيْمًا كَذَالِكَ

هغه دعاء چې (70000) اویا زره ملائکې تر قیامته پورې بخښنه ورته غواړي

عبدالله بن عمر ﷛ فرمایي ما له رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي که څوک دغه کلماتې ووایي الله ﷻ به (1000) زر نېکۍ په عملنامه کې ور ولیکي (1000) زر درجې به یې په جنت کې زیاتې سي (70000) اویا زره ملائکې به مغفرت او بخښنه ترقیامته ور لره غواړي.

معجم الکبیر صفحه (424) ج (12) حدیث نمبر (13562) باب عنوان مجاهدعن ابن عمر تاریخ مدینة دمشق د ابن عساکر صفحه (202) ج (5) حدیث نمبر (1244) موضوع رقم (105)

(36)


اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ تَوَاضَعَ كُلُّ شَیْءٍ لِعَظَمَتِهٖ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ ذَلَّ كُلُّ شَیْءٍ لِعِزَّتِهٖ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ خَضَعَ كُلُّ شَیْءٍ لِمُلْكِهٖ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِی اسْتَسْلَمَ كُلُّ شَیْءٍ لِقُدْرَتِهٖ

د فقر او مرض څخه د خلاصون دعاء

رسول الله ﷺ یو صحابي ته د مسکنت او مرضه د خلاصون لپاره دغه کلماتې ور وښودلې.

(37) (کتاب الدعاء د امام طبراني حدیث نمبر1045 (باب نمبر) (69) صفحه (1285))

تَوَكَّلْتُ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي
لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُنْ لَهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَلَمْ
يَكُنْ لَهُ وَلِيٌّ مِنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا



د الله جل جلاله د راضي کېدلو دعاء

که څوک دغه کلماتې درې (3) واره سهار او درې (3) واره ماښام ووايي الله جل جلاله به ورڅخه راضي سي.

(کتاب الدعاء د امام طبراني حدیث نمبر (302) صفحه (931)

(38)

رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا

لږ عمل او ډېر ثواب او ډېرې نېکۍ

درسول الله ﷺ څخه روايت دی هر هغه څوک چې دغه کلماتې ووايي الله جل جلاله به پنځه (5) قسمه نېکۍ ورکړي.

(1) اول: د حضرت اسماعيل د ذبحې غوندې ثواب به ورکول سي.

(2) دويم: په عملنامه کې به (10) لس نېکۍ ور وليکل سي.

(3) دريم: لس (10) گناهونه به ورمعاف کړل سي.

(4) څلورم: لس (10) درجې به يې په جنت کې لوړې سي.

(5) پنځم: د سهار په وخت کې که دغه کلماتې وويل سي تر ماښامه به يې الله جل جلاله له شيطانه وساتي که د ماښام په وخت کې وويل سي تر سهاره پورې به يې الله جل جلاله له شيطانه وساتي

کنزالعمال صفحه نمبر (137) ج 2 حدیث نمبر (3488)

(39)

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ
وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ

اویا زره ملایکې به ور لره مغفرت غواړي

که څوک سهار او ماښام دا کلماتې ووایې (70000) اویا زره ملایکې به ورلره بخښنه غواړي

رد المحتار باب الصلوة في الكعبة ج 3 ص (166)

(40)

أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

﴿هُوَ اللّٰهُ الَّذِىْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ عٰلِمُ الْغَيْبِ

وَالشَّهَادَةِ هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ (22) هُوَ اللّٰهُ الَّذِىْ

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ السَّلٰمُ الْمُؤْمِنُ
الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ ۚ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا
يُشْرِكُوْنَ (23) هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ
الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ۚ يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ
وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ (24)

(سورة الحشر)

سهار او ماښام دا دعاء ویل انسان جنت ته بیایي

معاذ بن جبل فرمایي وایي ما له رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي که څوک دغه کلماتې
سهار ووایي او په دغه ورځ کې که مړ سو الله ﷻ به یې جنت ته ور ولي او که څوک دغه
کلماتې ماښام ووایي او په دغه شپه کې مړ سو الله ﷻ به یې جنت ته ور ولي.

المصباح في اذکار المساء والصباح صفحه (120)

(41)

اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ بِكَ اٰمَنْتُ مُخْلِصًا لَّكَ دِيْنِىْ
اَصْبَحْتُ عَلٰى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، اَتُوْبُ اِلَيْكَ مِنْ سَيِّئِ
عَمَلِىْ وَاَسْتَغْفِرُكَ لِذُنُوْبِىَ الَّتِىْ لَا يَغْفِرُهَا اِلَّآ اَنْتَ

په دغه اذکارو سره دعاء قبلیږي

رسول الله ﷺ فرمايي که په دغه اذکارو سره هر رنګه دعاء له الله ﷻ څخه وغواړي درکوي يې.

(1) کتاب الدعاء د امام طبراني حديث (125) صفحه (838) باب (18)

(42)

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ
لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ لَآ اِلٰهَ
اِلَّا اللهُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ

سهار او ماښام دا دعاء ویل انسان د جهنم د اور څخه خلاصوي

رسول الله ﷺ فرمايي که يوڅوک سهار او ماښام دغه دعاء (7) اووه واره ووايي که د شپې مړ سو او که د ورځې د دې دعاء په برکت به دوزخ ته نه سي ولاړ.

(الدعوات الكبير د امام طبراني ج (۱) صفحه (192) حديث رقم (124))

(43)

اَللّٰهُمَّ اَجِرْنِيْ مِنَ النَّارِ
اَللّٰهُمَّ اَجِرْنِيْ مِنَ النَّارِ

د تعليم القرآن اداره

که دچا قرآن نه وي زده دغه اذکار يې عوض دي

عبدالله بن اوفا روایت کوي چې یو سړی رسول الله ﷺ ته راغی ویل یا رسول الله ﷺ زما قرآن نه دی زده داسې یو شی سته چې د هغه په ویلو سره الله ﷻ دقرآن شریف عوض راکړي رسول الله ﷺ وفرمایل چې څوک دغه کلماتې ډېرې وایي الله ﷻ به د قرآن د ویلو مقام ور کړي.

(الدعوات الکبیر د امام طبراني حدیث (123) ج (1) صفحه (190))

(44)

سُبْحٰنَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ

د مشکلاتو د حل لپاره دعاء

امام غزالي په خپل کتاب مکاشفة القلوب کې یو روایت ذکر کړی دی که سهار او ماښام دغه کلماتې (7) اووه ځله ووایي د مشکل لپاره الله جل جلاله به هغه کار ورته اسانه کړي او دغه عمل تجربه سوی هم دی.

مکاشفة القلوب باب نمبر 30 صفحه (143) سعادت الدارین صفحه (590)

(45)

حَسْبِيَ اللهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ

د ټولو بندګانو په اندازه حمد

دغه حمد چې څوک (1) یو وار ووایي د ټولو بندګانو په اندازه به الله ﷻ ثواب ورکړي.

(مَجمَعُ الزَّوائد حدیث نمبر (16895) ج (10) صفحه (87)

(46)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ قَبْلَ كُلِّ اَحَدٍ وَّالْحَمْدُ لِلّٰهِ بَعْدَ كُلِّ اَحَدٍ
وَّالْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى كُلِّ حَالٍ

د کاروبار د سمېدلو دعاء

که غواړي چې کاروبار مو سم سي دغه ذکر ډېر کوئ.

الاذکار د امام نووي حديث نمبر (380) صفحه (129)

(47)

بِسْمِ اللّٰهِ عَلٰى نَفْسِىْ وَمَالِىْ وَدِيْنِىْ اَللّٰهُمَّ رَضِّنِىْ
بِقَضَائِكَ وَبَارِكْ لِىْ فِيْمَا قُدِّرَ لِىْ حَتّٰى لَآ اُحِبَّ
تَعْجِيْلَ مَا اَخَّرْتَ وَلَا تَاْخِيْرَ مَا عَجَّلْتَ


(64)
دور ځې (1000) زر نېکۍ لاس ته راوړئ
چې څوک (100) سل واره دغه لفظ وايي الله ﷻ به زر (1000) نېکۍ په
عملنامه کې ورته وليکي او زر (1000) خطاوې به ور معاف کړي.
(الدعوات الكبير د امام طبراني ج (1) صفحه (220) حديث رقم (149))
(48)
سُبُحَانَ اللهِ
د تعليم القرآن اداره

د عبادت د خوند لپاره نبوي ﷺ علاج

دغه ذکر ډېر کول د عبادت خوند په سړي کې پیدا کوي.

مَجمَعُ الزّوائد ج(10)مخ(20) حدیث نمبر (17381)
امام طبراني صفحه ۱۵۷۲ د حدیث رقم ۱۷۰۸ باب نمبر ۲۵۹

(49)

يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ



هغه ذکر چې د مجلس کفاره ده

دابي هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايي که په کوم مجلس کې فالتو خبرې وسي نو که تر ولاړېدلو مخکې دغه کلماتې ووايي الله جل جلاله به هغه څه ور معاف کړي چې په مجلس کې ور څخه ويل سوي وه.

المُعجَمُ الأَوسَط. ج 1 مخ 30 رقم 77

(50)

سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوبُ اِلَيْكَ

هغه حمد چې ملائکې يې ثواب نه سي ليکلای

عبدالله بن عمر راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل چې يو بنده د الله جل جلاله د بندګانو څخه دغه حمد ووايه ملائکو الله جل جلاله ته عرض وکړ چې يا ربه د دې حمد ثواب څنګه وليکو موږ ته اندازه نه راکوي الله جل جلاله ورته وفرمايل صرف تاسو حمد وليکئ ثواب هغه وخت دې بنده ته زه ورکوم چې دی زما سره ملاقي سي.

المعجم الکبير صفحه (243) ج (12) رقم حديث (13297) (کتاب الدعاء)

(51)

يَا رَبِّ لَكَ الْحَمْدُ كَمَا يَنْبَغِي لِجَلَالِ وَجْهِكَ وَلِعَظِيمِ سُلْطَانِكَ

د تعليم القرآن اداره

د مور او پلار د زيارت لپاره دعاء

د رسول الله ﷺ څخه روايت دی که څوک پر هديره تېرېږي او يوولس (11) واره سورة الاخلاص (قُل هُوَ اللهُ اَحَدٌ) ووايي ثواب يې مړو ته ور وبخښي ثواب يې مړو ته رسېږي او ويونکي ته د مړو په اندازه ثوابونه الله ﷻ ورکوي په بل روايت کې داسې فرمايي که چا دغه لاندې دعاء ووېله ثواب يې مړو ته ورو بخښی الله ﷻ به د ټولو انسانانو له آدم عليه السلام څخه بيا تر قيامته چې څونه انسانان دي د هغو په اندازه ثوابونه ورکړي.

المصنف لابن شيبة (ج(19) (صفحه (370) رقم (36356) كتاب نمبر (36)
(حاشية الطحطاوى على المراقي الفلاح صفحه (622) فصل في زيارت القبور)

د تعليم القرآن اداره

(52)

اَللّٰهُمَّ رَبَّ الْاَجْسَادِ الْبَالِيَةِ وَالْعِظَامِ النَّخِرَةِ الَّتِيْ
خَرَجَتْ مِنَ الدُّنْيَا وَهِيَ بِكَ مُؤْمِنَةٌ اَدْخِلْ
عَلَيْهَا رَوْحًا مِّنْكَ وَسَلَامًا مِّنِّيْ بله دا دعاء ويل اَللّٰهُمَّ
اغْفِرْ لِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِيْ صَغِيْرًا
وَاجْزِهِمَا بِالْاِحْسَانِ اِحْسَانًا وَّبِالسَّيِّئَاتِ غُفْرَانًا

په دغه دعاء د جهنم څخه ځانونه ازادکړئ

سلمان فارسي رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ فرمايي دغه کلماتې که څوک هره ورځ (3) واره ووايي الله جل جلاله به يې بدن له جهنم له اوره ازادکړي.

الدعوات الكبير د امام طبراني صفحه (315) ج (1) حديث رقم (224) باب نمبر (26)

(53) اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اُشْهِدُكَ وَاُشْهِدُ مَلٰئِكَتَكَ وَاُشْهِدُ حَمَلَةَ عَرْشِكَ وَاُشْهِدُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَاُشْهِدُ مَنْ فِي الْاَرْضِ اَنَّكَ اَنْتَ اللّٰهُ وَحْدَكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُوْلُكَ

د قبر د رڼا او د پل صراط د رڼا او جنت ته دور تللو لپاره ذکر

عبدالله بن عمر فرمايي که څوک تر هر لمانځه وروسته او د خوب پر وخت پورتني اذکار (3) درې واره د کلمې طيبې سره ووايي الله ﷻ به د قبر رڼا او د پل صراط رڼا او جنت ته تلل ور نصيب کړي.

المصنف لابن شيبة (ج (10) (صفحه (35) رقم (29744) کتاب نمبر (22) باب نمبر (20)

(54)

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

اَللّٰهُ اَكْبَرُ كَبِيْرًا عَدَدَ الشَّفْعِ وَالْوَتْرِ وَكَلِمَاتِ اللّٰهِ

اَلتَّامَّاتِ وَالطَّيِّبَاتِ الْمُبَارَكَاتِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

(72)

د هر مؤمن نارینه او زنانه په اندازه نېکي لاس ته راوړي

د ام سلمة رض څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایي که څوک هره ورځ
دغه دعاء ووايي الله جل جلاله به د هر مؤمن په حساب یوه یوه نېکي ورکړي.

(55)

مَجمَعُ الزّوائد ج 10 صفحه (255) حدیث نمبر (17599)

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ

د تعلیم القرآن اداره

زر نېکۍ لاس ته راوړې او په جنت کې کور جوړ کړئ

رسول الله ﷺ فرمايي که څوک بازار ته ولاړ سي او دغه دعاء
ووايي الله ﷻ به 1000 زر نېکۍ ورکړي 1000 زر ګناهونه به ور
معاف کړي او په جنت کې به يو کور ورکړي.

(56)

صحيح الترمذي (ج 5مخ428 رقم3429 باب نمبر36

هغه ذکر چې د حج او عمرې ثواب لري او که مړ سو د شهیدانو په قطار کې به وي

امیر المؤمنین عثمان ﷺ فرمایي چې ما ته رسول الله ﷺ وفرمایل یا عثمان که څوک په سهار کې دغه کلماتې(10)لس واره ووایي الله ﷻ به (6) شپږ شیان ورکړي(1)اول له شیطانه او د هغه له لښکرو به یې الله ﷻ وساتي (2)دوهم په جنت کې به الله ﷻ قنطار ورکړي(3) دریم په جنت کې به الله ﷻ درجه ور لوړه کړي (4) څلورم الله ﷻ به د حورو سره نکاح ور نصیب کړي (5)پنځم الله ﷻ به د قبول سوي حج او عمرې اجر او ثواب ورکړي (6)شپږم که په دغه ورځ مړ سو الله ﷻ به د شهید مقام ورکړي او روح به یې د شهیدانو سره ملګری سي.

کتاب الدعاء د امام طبراني ج 8 صفحه (1569) باب (259) حدیث (1700)

(57)

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ وَسُبْحٰنَ اللهِ
وَبِحَمْدِهٖ وَاَسْتَغْفِرُ اللهَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ اَلْاَوَّلُ
وَالْاٰخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ يُحْيِيْ
وَيُمِيْتُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ

د سحر او نظر څخه د حفاظت دعاء

کعب الأحبار فرمايي که دغه کلماتې ما نه ويلای يهودو به د سحر او جادو په ذريعه له ما څخه خر جوړ کړی وای.
(58)

مرقاة المفاتح شرح مشکوة المفاتح .ج 5 مخ 385 رقم 2479

أَعُوذُ بِوَجْهِ اللهِ الْعَظِيمِ الَّذِي لَيْسَ شَيْءٌ أَعْظَمَ مِنْهُ وَبِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ الَّتِي لَا يُجَاوِزُهُنَّ بَرٌّ وَلَا فَاجِرٌ، وَبِأَسْمَاءِ اللهِ الْحُسْنَى مَا عَلِمْتُ مِنْهَا وَمَا لَمْ أَعْلَمْ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ وَبَرَأَ وَذَرَأَ

د شپې د بیرې لپاره دعاء

خالد بن ولید د شپې بېرېدی رسول الله ﷺ دغه دعاء ور وښووله عائشه فرمايي
چې څو ورځې وروسته خالد بن ولید رسول الله ﷺ ته راغلی او ورته وې ویل
زما مور او پلار دې تر تا قربان سي یا رسول الله ﷺ 3 درې واره مې لا نه و.
پوره کړی بېره مې ورکه سوه اوس پروا نه راکوي که د زمري سره مخامخ سم د شپې.

مَجمَعُ الزَّوائد حدیث نمبر (17066)ج(10)صفحه(130)

(59)

أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ مِنْ غَضَبِهِ
وَعِقَابِهِ، وَشَرِّ عِبَادِهِ، وَمِنْ هَمَزَاتِ
الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ

له تاسو څخه هیله

که کومه غلطي مو په کتاب کې پیدا کړه تاسو موږ ته
معلومات راکړئ ستاسو به پر موږ احسان وي.

تمت بالخیر

ډیزاین او ترتیب: نوید آرین +923023825380

هغه کتابونه چې مونږ حوالې ورڅخه را اخستې دي

نمبر	د کتاب نوم	د مصنف نوم
1	ذريعة الوصول الى جناب رسول	علامه مخدوم محمد هاشم سندي مكتبه لدهيانوي
2	القول البديع في الصلاة على الحبيب الشفيع	الحافظ شمس الدين السخاوي902ھ
3	القربة الى رب العلمين	ابي القاسم خلف بن عبد الملك بن بشكوال 578ھ
4	الامام ابن شاهين 285 ھ	الترغيب في فضائل الاعمال
5	المعجم الكبير	للحافظ الامام سليمان بن احمد الطبراني 360 ھ
6	المعجم الاوسط	للحافظ الامام سليمان بن احمد الطبراني 360 ھ
7	كتاب الدعاء د امام طبراني	للحافظ الامام سليمان بن احمد الطبراني 360 ھ
8	مجمع الزوائد	للحافظ الامام نور الدين علي بن ابي بكر بن سليمان الهيثمي 807ھ
9	صحيح الترمذي	للحافظ الامام ابي عيسى الترمذي 279ھ
10	مختصر تاريخ دمشق د ابن عساكر	للحافظ الامام محمد بن مكرم 711 ھ
11	سفينة القادرية	للحافظ الامام شيخ عبد القادر الجيلاني 576 ھ
12	مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح	للحافظ الامام علي بن سلطان محمد القاري 1014ھ

نمبر	د کتاب نوم	د مصنف نوم
13	المصنف لابن شيبة	للحافظ الامام ابي بكر عبدالله بن محمدبن ابي شيبة
14	حاشية الطحطاوي على المراقي الفلاح	احمد بن محمد بن اسماعيل الطحطاوي الحنفي 1231 ھ
15	مكاشفة القلوب	حجة الاسلام امام ابو حامد الغزالي 505 ھ
16	سعادة الدارين	القاضي الشيخ يوسف بن اسماعيل النبهاني 1350 ھ
17	الاذكار من كلام سيد الابرار	للحافظ الامام محي الدين النووي 676 ھ
18	رد المحتار	محمد امين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي 1252 ھ
19	المصباح في اذكار المساء والصباح	هجري دار الكتب العلمية بيروت 775 محمد بن محمد الحنبلي
20	كنز العمال	علاء الدين علي المتقي بن حسام الدين الهندي 885 ھ -975 ھ
21	تفسير الصاوي	احمد بن محمد الصاوي المالكي الخلوتي، 1241 ھ 1825/م
22	مجرب اور مبارک درود شریف	حافظ مولوي محمد لیاقت لاهوري
23	تفسير الدر المنثور	الحافظ امام جلال الدين سيوطى 849-911 ھ
24	جامع الاحاديث	الحافظ امام جلال الدين سيوطى 849-911 ھ
25	سنن ابي داود	الحافظ امام ابي داود 202-275 ھ

تمت